انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۱۷/۱۰/۲۷

# د شهید سردار محمد داود

# او ډاکټر محمد حسن شرق ملګرتیا ته یو ځغلند نظر

## (د ډاکټر شرق د لیکنو له مخې)

## دریمه برخه

ډاکټر شرق په همدې ځای کې هم په رهبر او هم په وحیدعبدالله هم د شنې لښتې ګزار کوي او وای: «مامورین وزارت خارجه ......... بدون اعتنا به اینکه حکومت، حکومت نظامی است و میدان های طیاره...... به اداره قوای هوائی تعلق گرفته است، با ملکه و همراهانش جهت پرواز وارد میدان شده بودند» دلته که سړی زیر شی نو ډاکټر صاحب په یوه غشی څو هدفونه ولی، یو خو وحید عبدالله دی چې د خارجه چارو د وزات د کفیل په توګه یا اضطراری او نظامی حالت نه پیژنی او یا ورته ارزښت نه ورکوی، دویم خپله داودخان دی چې د دولت د مشر په توګه په دی نه پوهیږی چې په نظامی حالاتو کی بیرون ته د تللو اویا له بیرون نه د راتللو شرایط څه ډول دی او تلونکی یا راتلونکی اشخاص د کوم ډول چلند سره مخامخ کیږی؟ خو تش امر کوی او امر باید بی کوم ځنډ نه عملی شی.

ډاکټر وروسته بیا دا کیسه کوی چې څومره په قهر او غضب د دولت رئیس له ده نه د ملکی او ورسره ملګرو د بیرون ته تللو د ممانعت پوښتنه کوی، او دی په ډیری عاجزی د موضوع د بی خبری له کبله د دولت د رئیس نه د بخښنې د غوښتنې سره سم د دی موضوع د تحقیق او څیړنی د پاره وخت غواړی، خو بیا وریسی لنډ وای چې « ولی قبل از همه به آمریت میدان طیاره توسط پاچاګل وفادار هیدایت دادند(محمدداود هیدایت ورکړی و) که مانع سفر ملکه و همراهان وی نشوند.» دلته بیا هم شرق صاحب خپل دوست او رهبر محمدداود په غیر مستقیمه توګه یو عصبی او د قوانینو نه سرغړونکی حاکم معرفی کوی او وای چې حتی د مسئلی د څیړولو او د موضوع د تحقیق پوری هم حوصله نه شی کولی او جامد امر کوی چې د څیړنو نه مخکی ملکی او ورسره ملګرو ته یی د هیواد نه د وتلو مخه و نه نیول شی.

تردې پیښی وروسته ډاکټر شرق صاحب لیکی چې د پاچاګل وفادار دمعزول کیدو موضوع هم له همدې حادثی سره تړاو لری او داسی وښای چې ګوندی داود خان لا هم د شاهی کورنی د تاثیراتو لاندی دی.

ډاکټر شرق صاحب ادعا کوی چې معزول پاچا محمدظاهر تر بل هرچا ښخه محمدداود ښه پیژنی او په دی ښه پوهیږی چې د دښمنی په ځای په دوستی او ملګرتیا کی په ښه توګه کولی شی چې د هغه نه انتقام واخلی، نو ځکه یی په ډیره عجله د محمد داود د اغوا کیدو د پاره د نور احمد اعتمادی په ذریعه چې په ایتالیا کی د افغانستان سفیر و، خپله استعفا نامه داود خان ته را لیږی او په همدی استعفا نامه کی هغه د خپلو هم سنګرو ملګرو نه لریوالی ته تشویقوی «... و ضمناً با جملات دلسوزانه وی را از نزدیکی و اعتماد به هم سنگرانش برحذر داشته بود.»

شرق صاحب وای چې مونږ ټول په دی پوهیدو چې داود لا هم خپل خانه دان نه دی هیرکړی او په دی هم پوهیدو چې د پاچا د رضایت د پاره به داودخان د خپلو ملګرو نه لری شی خو مونږ بیا هم ورته وفاداروو. د دی خبری معنی داسی کیدای شی چې مونږ پوهیدلو چې هغه د باور وړ شخص نه دی، خو مونږ لاهم باور پری کاوه او د مخالیفینو په وینا پسی نه ګرځیدو. خو دا خپله داود خان و چې د د داخلی مخالیفینو، د غربی رسنیو، پاکستان او څه ناڅه د ایران د تبلیغاتو نه متاثر شی چې ویل به یی:

« ...جمهوری خواهان در تلاش تعویض محمد داود هستند» ډاکټر شرق په همدی ځای کی د هوای قواو او مدافع هوا د قوماندان سید آمیر نوم اخلی او وایی چې هغه په امریکا کی لوړ تحصیلات سرته رسولی او د داود خان په خلاف د میوندوال سره د جمهوریت د سقوط دپاره یوځای شوی و چې دی کار د محمد داود سره ویره پیدا کړی وه «.... در محمد داود در باره رفقایش ایجاد وسوسه و بد کمانی کرده بود»

ډاکټر صاحب شرق دلته په اګاهانه توګه د امریکا نوم اخلی او وای چې که سید آمیر د میوندوال سره د داود په خلاف یوځای شوی و، خو هغه په امریکا کی تحصیل کړی نه په شوروی اتحاد کی. نو په کار نه و چې داود خان د هغو ملګرو په برخه کی هم بی اعتماده شوی وای چې په امریکا کی یی تحصیل نه و کړی.

ډاکټر شرق صاحب د جمهوری دولت د مرکزی کمیټه کی د ستری خلا راوړونکی عمل د محمد داود له خوا په خپل سر او د مرکزی کمیټی سره له مشوری پرته د پاچاګل وفادار چې د هغه د خپل لاس نیالګی و، برطرفی د وزارت له مقام څخه او د بلغاریا په هیواد کی د سفیر په توګه د هغه ټاکل ګڼی. د دی تر څنګ ډاکټر شرق د عبدالحمید محتاط سرغړونی ته هم ګوته نیسی او وایی: « عبدالحمید محتاط برخلاف تعهدات و خط مشی جمهوری خواهان(خطاب به مردم افغانستان) با چند تن از صاحب منصبان قوای هوائي بنام گروهی کار تشکیل داده بود که واقعاً با اهداف جمهوری مغایرت داشت......با اینکه محتاط حاضر کردید که سهو خویش را جبران کند اما کمیته مرکزی بدون توجه به پوزش وی، بایک اقدام غیر دوستانه وی را ازکمیته مرکزی و وزارت مخابرات برکنار کرد». دلته که سړی زیر شی وینی چې ډاکټر شرق بیا هم په مرموزه توګه د مرکزی کمیټی د نوم په اخستلو سره لوستونکی ته وایی چې د دی دواړو تنو ( وفادار او محتاط) عزلول د داود کاردی، ځکه مرکزی کمیټه نوره د دی توان نه لری چې د هغه د خودسریو مخه ونیسی نو هرڅه چې هغه وایی هماغه ډول باید عمل وشی. ډاکټر شرق د وفادار لری کول د ملکی او ورسره ملګرو د توقف سره او د محتاط لری کول د یوی سیاسی ډلی د جوړیدو سره تړی. خو دلته یوه بله پوښتنه را ولاړیږی چې ولی ډاکټر شرق له دی مقاماتو نه د وفادار او محتاط په لری کولو دومره خواشنی څرګندوی؟ ایا له دی کبله چې په کمیټه مرکزی کی د ده قوت را کمیږی او که دا دوه تنه د ده د هغی لاری ملګری دی چې دی یی داودخان ته ورنژدی کړیدی؟ او بله پوښتنه داده چې شرق صاحب ولی د پاچآ د کورنی په خوشی کولو د داودخان نه ګیله من

او مانیجن دی؟ ده څه غوښتل چې د دی کورنۍ سره باید وشی، ایا ده او دده نورو بلشویک پرستوملګرو همدا غوښتل چې د پاچآ د کورنۍ سره هماغسی سلوک وشی لکه بلشویکیانو چې تر بری وروسته د تزار د کورنی سره کړی و، چې لوی واړه ، نارینه او ښځینه ټول یې په یوه شپه کې په مسکو کې په یوه زیر زمینۍ کې تیرباران کړل، که څنګه؟؟ ایا ده دا هیره کړی وه چې آخر د معزول پاچا او د داود خان په رګونو کی یوه وینه چلیږی؟ ایا ده ته نه وه معلومه چې دا یوه کورنۍ ، د یوه نیکه اولاده او تر ټولو مهمه دا چې د پاچا خور د داودخان میرمنه او د اولادونو مور ده؟ په دی ټول شیانو د پوهیدلو سره سره ایا دابه یوه ډیره ساده مزاجه طرحه نه وی چې د یوی لیونی مرکزی کمیټی د خوښی او څو تنو پردیو پالو منصبدارانو د رضایت د پاره د ډاکتر صاحب حسن شرق په څیر یو هوښیار سړی خپل رهبر په دی ملامت ګڼی چې ولی یی خپلی کورنۍ غړی بی له محاکمی او مجازاتو نه خوشی کړل؟ او هغوی څه ګناه لروده؟

ډاکټر صاحب محمد حسن شرق په ربښتیا چې په ګونګه او مرموزه لیکنه کی ډیر لوی او پراخه لاس لری، وګوری چې د خپل رهبر خصلتونه په څومره مهارت سره په یوه جمله کی را نغاړی: « ولی بعد از ۲۶ سرطان غرور و خود سری یک دسته و بی تفاوتی دسته دیگر از جمهوری خواهان سبب گردید تا خدمات و جانبازیهای ناترس ترین راد مردانی راکه در تغیر نظام شاهی به جمهوری در صف اول قرار داشتند، نادیده انګارند و از آنها دوری گُزینند.» ډاکټر شرق د دی د پاره چې لوستونکی ته باور ورکړی چې دی څومره محمدداود ته وفادار دی په ډیرو ځایونو کی خپل ځان هم ورسره غاړه کوی. شرق صاحب وایی : «.....از قادرخان رهبر صاحب منصبان شورشی در حادثه هفت ثور پرسیدم که: چرا از جمع ما بریدی و باز چرا به تره کی و امین پیوستی؟ گفت: راستش را بگویم از بی توجهی رهبر کودتا و کم لطفی تو پیرو تره کی شدم»

که په پورته دوه جملو کی په لومړی جمله کی«غرور و خود سری یک دسته» په لړو خلاصو سترګو او دقت سره وڅیرو، په ډیری اسانی سره پوهیدلی شو چې ( غرور، خودسری، خودخواهی) او ډیر دی ته ورته نور داسی صفات ټول د سردار محمد داود خان هغه القاب دی چې د هغه د شخصیت ځینو پیژندونکو ورته ورکړیدی. که د جناب شرق صاحب مطلب له دی ټکو نه مرحوم داود خان نه وی نو د دوی په جمهوری نظام کی دا (مغرور)،(خودسر) او (خودخواه) نور څوک کیدای شی؟ او که مطلب یی محمدداود ته اشاره وی نو، ایا دا ډول دوستي تاسو درنو لوستونکو ته څه ډول دوستی ښکاری؟ سمه که ناسمه؟ ماته خو جناب شرق صاحب د دوستی په جامه کی د داودخان هسی یو دُښمن ښکاری چې په ټول توان سره د خپل دوست صفتونه کوی لکه: ( هغه ډیر ښه سړی دی، زړور دی، سخی دی، زړه سواند دی، هوښیاردی او.......څه او څه دی) خو د خپلو ټول ښو صفاتو په اخر کی په یوی وړی جملی سره لکه ( خو افسوس، چې خودخواه، مغرور، کینه کښ او ..... نه وایی).

شرق صاحب ټول هغه کسان چې د جمهوری دولت په واکمنی کی شریک دی، د ده او دده د هغو سکه ملګرو په وړاندی، له دی کبله چې د پردیو سره د دوی په اړیکو ورو ورو پوهیږی، عکس العمل څرګندوی د جمهوریت غوښتونکو (د ډلی) مخالیفین او د دی ډلګی مشر هم د دولت رئیس محمدداود بولی. شرق صاحب په ډیر مهارت سره په حقیقت کی د ټولو راتلونکو ناوړو پیښو مسؤلیت د خپل مشر محمدداود غاړی ته ور اچوی او په حقیقت کی هغه د دی وړ نه ګڼی چې په سالمه توګه د جمهوری دولت چاری پر مخ بوزی. هغه په دویمه جمله کی د قادر د قوله د

لوستونکو د تیرویستنی د پاره ځان د رهبر سره شریکوی او وایی چی قادر راته و ویل « از بی توجهی رهبر کودتا و کم توجهی تو، پیرو تره کی شدم».

دلته شرق صاحب په پوره وضاحت سره دا خبره کوی چی د کودتا رهبر، هغه قادر چی د کودتا اصلی ستنه وه په ډیری بی پروایی سره له دندی گوښه کړ اوبل څوک یی د هغه پر ځای وټاکه، او همدا کار د دی سبب شو چی قادر د تره کی او امین سره ملگری شی. نو په دی کار کی د ده (شرق صاحب) «کم توجهی» څه ده؟ شرق صاحب دلته د ځان د یادولو نه بی له دی چی د لوستونکی په سترگو کی خاوری و ر واچوی بل مطلب نه لری اونه تری بل مطلب اخستل کیږی. د مطلب د ښه وضاحت د پاره مینه وال کولی شی چی د شرق صاحب د کتاب (کودتا سرخ یا سیاه) چی په افغان جرمن کی د صالحه جان واصل په زیار نشر شوی په څلورمه برخه کی د قادرخان سره د شرق صاحب پو ره مرکه ولولی.

تردی کیسی وروسته شرق صاحب د نبی عظیمی د پرچمی کیدو کیسه لیکی او هلته هم په ډیر مهارت سره د نبی عظیمی د پرچمی کیدو گناه د داودخان او د هغه تر څنک د ناستو د پاچا د پلویانو په غاړه وراچوی، شرق صاحب د نبی عظیمی خبره د هغه له کتاب(سیاست و اردو) نه داسی را اخلی« ....درحالیکه سرخورده گی و عقده های شخصی ما نسبت به دست اندرکاران رژیم(دولت جمهوری) بالای ما غلبه کرده بود به عضویت جناح پرچم ح.د.خ پیوستم». دلته هم دا خبره پو ره روښانه ده چی په جمهوری دولت کی «دست اندر کاران رژیم»، بی له محمدداود اود جمهوریت په مشرتابه کی د شوروی د پلویانو له ضد اشخاصو نه پرته چی د داودخان سره ملگری وو، نور څوک نه شی کیدلی. په همدی ځای کی ډاکتر صاحب شرق د نبی عظیمی دومره صفتونه کوی چی لوستونکی ته دا گومان ورکوی چی د سرطان د ۲۶ نیتی د کودتا اصلی سرته رسونکی یی قبول کړی او بیا وایی: « به فرمان رئیس دولت قاضی محکمه نظامی هم تعیین شده بود، قاضی محکمه ایکه در محاکمه متهمین از برائت دادن تا اعدام مجرمین مختار بود، ولی متاسفانه مانند ده ها جمهوری خواه دیگر ازکنار رهبری دولت کنار گذاشته میشود». دلته ډاکتر صاحب شرق بیا په یوه غشی دوه مرغی ولی: یو داچی د دولت رئیس داسی نا اهله، نادان او بی پروا شخص دی چی د نبی عظیمی غوندی یو څوک یی چی نه حقوقدان دی، نه قانون پوه دی او نه کوم مذهبی او د شرعی علومو عالم دی، بلکی یو عسکر دی، خو بیا هم د دولت رئیس (داود) هغه متهمینو او مجریمینو ته د جزا ورکوني په هغی محکمه کی چی هم تر اعدامولو او هم په خپله خوښه تر برائت ورکولو پوری صلاحیت لری د مقرری فرمان ورکوی، نو چه رهبر دومره پوچ مغزی شی د دولت او رعیت به څه حال وی؟ دویم داچی داود خان لا هم د شاهانه خصلتونونه، نه دی اغوښتی او لا هم د یوه مطلق العنان زمامدار په توگه بی له مشوری هرڅه چی یی زړه غوښتی وی تر سره کوی، هغه ځان د ټولو اصولو نه لوړ بولی، نوکه د هرڅا سره د جمهوری دولت په اوږدو کی تیری او تجاوز شوی وی مسؤل یی دی (شرق) او دده ملگری نه بلکی داود خان او ملگری یی دی.

تردی اوږده بحث وروسته ډاکتر صاحب شرق د افغانستان د نوی جمهوری دولت سره د اسلامی هیوادونو د مرستو په ژمنو او په دی برخه کی د محمد دود خان په خوشبینیو او خوشباوریو باندی هم اوږدی خبری کوی او داسی ښـای چی گوندی دی له دی هیوادونو نه د مرستو د را جلبولو سره موافقه لری، خو د ځینو ملحوظاتو له امله د ځینو هیوادونو مرستو ته د شک په سترگه گوری. مثلاً له دی جملی څخه د ایران د شاهی دولت د مرستو ژمنی د هیواد په

ګټه له دی کبله نه بولی چی د ایران شاهی دولت د افغان جمهوریت په لومړیو ورځو کی په څرګنده توګه د افغان جمهوری دولت په وړاندی خصمانه دریځ نیولی و، د ایران د دولت سره ویره پیدا شوی وه چی په همسایه هیواد افغانستان کی د جمهوری نظام جوړښت به د ایران د شاهی دولت د نسکوریدو د پاره لاره هموواره کړی، خو داچی اوس د افغان دولت سره مرسته کوی لوی دلیل یی د شوروی دولت نه د افغان دولت د لریوالی څخه پرته بل څه نه شی کیدلی، نو ځکه شرق صاحب ته د ایران د دولت مرسته له غرضه ډکه ښکاری. د ډاکټر شرق له تشویش سره سره بیا هم جمهور رئیس محمد داود د ۱۳۵۲ کال د ثور په میاشت کی ایران ته سفر کوی او چی بیرته وطن ته رستنیږی نو د خپل سفر نه خصوصاً د ایران د پاچا سره د لیدنی نه ډیر خوښ او راضی ښکاری، شرق صاحب لیکی: « دریک دیدار خصوصی دربازګشت از تهران ضمن راضی بودن خویش ګفت: شاه ایران همه پیشنهادات طرف افغانی با جبین باز پذیرفت و ضمناً خواهش نمود تا کشور های برادر ودوست ایران و افغانستان، در مسایل متعلق به دو کشور تبادل اطلاعات داشته باشند، و من هم پذیرفتم.» ډاکټر شرق وای چی داود خان راته د (حزب رستاخیز ملی) د مشر سره د لیدنی هم و ویل او زیاته یی کړه چی: «روش خوبی جهت رسیدن به دموکراسی واقعی انتخاب کرده اند. ما میتوانیم درتاسیس حزب در افغانستان تا حدودی از این روش استفاده کنیم، ګفتم: تاجایکه اطلاع دارم این حزب در جامعه ایرانی از شهرت خوبی برخوردار نیست و از طرف دیګر خط مشی انان با سیاست بی طرفی ما در تضاد است. ....... چیزی نګفت و من هم رخصت شدم.» ډاکټر شرق وایی چی زه بیخی ګنګس او ګیچ شوم، ایران چی په سیمه کی د امریکا تر ټولو نژدی او یواځنی ملګری دی، څنګه کولای شی چی داسی یو څوک چی خپله د بی طرفی د سیاست مخکښانو نه وی،(محمد داود) د داسی یوی قرضی په مقابل کی « که تا هنوز به شاخ آهو بسته بود اورا از راه کشیده باشد؟» شرق صاحب یو څو کرښی وروسته بیا داسی لیکی: « ازینکه شاه ایران به مشوره شاه مخلوع افغانستان، محمد داود را از رفقایش برحزر داشته باشد، سند در دست نیست، اما بعد از بازګشت از ایران از علاقه و اعتماد به سنګرانش کاسته شده میرفت.»

**د دریمه برخه پای**

**دوام لری**